# مینه څه ده؟

**د زړه خبرې:**



Ketabton.com

**لیکوال : م احمدي**

کال :۱۴۰۱ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

**سریزه:** مینه داسې یو احساس دی چې په ټولنیز ژوند کې په بېلابېلو بڼو له بېلابېلو کسانو او څیزونو سره رامنځته کېږي، داچې مینه زموږ د ژوند یوه برخه بلل کېږي او هېڅوک له دې امره استثناء نه دي نو ښه ده چې انسان د حقیقي مینې ( له الله تعالی او رسول الله سره مینه )په لټه کې شي تر څو د نورو مجازي او باطلو مینو په دام کې ښکېل نه شي .

دا چې د حقیقي مینې لارویان هم په دنیا او هم په آخرت کې کامیاب دي او په دې لاره کې مزل ورته بې خطره وي ، نو په دې واړه پراګراف کې تر ډېره پر مجازي مینې په ځانګړې توګه د نن ورځې د مینې او مینتوب  پر موضوع رڼا اچول کېږي.

سمه ده چې د ځوانانو ترمنځ مینه د مجازي مینې په نوم یادېږي خو دا باید ومنو چې د زړه له تله مینه کول که هرڅو مجازي هم وي بېل کیفیت او بېل تعریف ځان ته ځانګړی کوي .

د مینې په اړه د دې څو کرښو د لیکلو اصلي لامل پر دې درد د ډېرو ځوانانو د ښکېلتیا دی ، په دې مانا چې نن صبا ډېری ځوانان او نجونې د مینې په درد اخته دي نو ځکه مې و پتېیله چې په دې هکله یو څه ولیکم.

زه لیکوال نه یم او نه د لیکوالۍ پر اصولو پوهېږم خو داسې موضوعاتو زه له پخوانه دې ته هڅولم چې باید یو څه ولیکم که هر څو نیمګړي او له ستونزو ډک وي.

لکه څنګه مې چې پورته ذکر کړل چې په لومړي ځل مې د یو څو کرښو د لیکلو هوډ کړی ، نو طبیعي خبره داه چې دا وړه رساله به له ستونزو خالي نه وي ، بناء مخکې له مخکې د خپلې هرې تېروتنې بښنه غواړم او له تاسو نه هیله من یم چې د لیکوالۍ په برخه کې خپلې نېکې مشورې له ما څخه و نه سپموۍ.

**مینه څه ده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه یو احساس دی چې د دوو کسانو ترمنځ پر بېلابېلو عواملو رامنځته کېږي. مینه کول څه نوې خبره نه ده ، مینه د انسان له پیدایښت راواخله تر نن ورځې پورې د انسانانو او نورو مخلوقاتو ترمنځ په دوامداره توګه جریان لري او تر ډېره بریده مینه کول د ژوند کول دلیل کېدای شي.

## مینه څنګه پیدا کېږي؟

په مسلمانو ټولنو کې مینه ترډېره د نر او ښځې ترمنځ پر لاندې لاملونو رامنځته کېږي:

- د نکاح کولو انګېزه ( چې دا یې ترټولو ښه لاره ده )
- د شهوت پر بنسټ رامنځته شوې علاقه.
- ناهیلي او یواځې توب.
- له ظاهري بڼې څخه اغېزمن کېدل.
- له باطني احساساتو اغېزمن کېدل او داسې نور.

## د مینې پړاوونه:

مینه کول بېلابېل پړاوونه او دورې لري چې د هرې دورې په تېرېدو انسان له ځان سره وړي او بدلوي یې.

په لومړي سر کې انسان له یو داسې چاسره مخ کېږي چې په لومړي ځل یا هم په بېله بڼه یې ویني.

له یو یا دوه وارې لیدلو څخه وروسته شخص هڅه کوي چې د مقابل لوري سره د اړیکې نیولو سبب ته لاسرسی پیدا کړي ، وروسته له دې چې له مطلوب شخص سره یې د اړیکو نیولو لاره ومینده ، د وخت په تېرېدو او د اړیکو پر دوامداره ساتلو د لومړي شخص په ژوند کې ډېر بدلون راځي او عادي شخص څخه په مینه کې ډوب مین جوړ شي.

دا نو د مینې هغه پړاو دی چې مین غواړي چې ځلورویشت ساعته خپله مینه د خپل د سترګو پر وړاندې ولري.

د وخت په تېرېدو مین هڅه کوي تر څو خپله مینه خامخا په اونۍ کې یو یا دوه ځله ووینې ، یادې موخې ته د نه رسېدو په صورت کې مین هرې شونې لارې نه د خپلې مینې د لیدلو لپاره ( که څه هم د ژوند د له لاسه ورکولو وېره وي )

ګټه اخلي.

په دوهم پړاو کې مینه تر ډېره حده پخوالي ته رسېږي او دواړه خواوې د یو بل لیدو ته لېوال وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پړاو دومره مخ ته ځي چې مین خپلې د ژوند چارې په عادي ډول سرته نشي رسولای او ټول سوچ یې  خپلې مینې ته د رسېدو لپاره بوخت کړی وي.

د وخت په تېرېدو او د خپلې مینې د لیدو د ټولو لارو پر بندېدو مین هڅه کوي چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره له اصولي لارې څخه ګټه واخلي خو د ټولنو د مختلفو رواجونو په وجه نشي کولای چې له دې لارې ګټه واخلي.

د مینې دریم او وروستی پړاو ترټولو ستونزمن دی ، ځکه مجازي مینه که چېرته له زړه وشي نو د حقیقي مینې رنګ اخلي ، هغه مینه چې له زړه څخه راووځي نو هېڅکله سرته نه رسېږي د انسانیت په تاریخ کې چېرته داسې نه دي شوي چې دوه کسان دې له زړه نه یو بل سره مینه وکړي او یو بل ته دې ورسېږي. نو کله چې مین په مینه کې ناکام شي دغه د ناکامۍ پېښه دده په ژوند دومره اغېز وکړي چې له عادي ژوند نه یې اوباسي. په داسې حالت کې اکثره ځوانان بیا نشو ته مخه کړي، یا ځان وژنه کوي او یاهم له وطن څخه پردی شي.

په مینه کې له ناکامۍ څخه وروسته ترټولو عادي اغېز یې دا دی چې مین به خپله مینه تر مرګه هم هېره نه کړي که هر څومره ډېر ودونه وکړي ، ډېر اولادونه ولري او یا که هرڅومره بدلون یې په ژوند کې راشي.

## په مینه کې له ماتې وروسته:

کله چې د مینتوب دوره ختمه شي او دواړه خواوې ودونه وکړي ، مین / مینه به په ظاهري بڼه بالکل روغه / روغ وي خو دننه په ګوګل کې به یې نه مړ کېدونکی اور بل وي. دا داسې حالت دی چې د بیان لپاره یې  الفاظ نه شم پیدا کولی  ، د مینتوب دوره څومره هم چې غزېږي هومره ترې ژوند اغېزمن کېږي او په مینه کې د مات شخص ذهن تل د مینتوب له یادونو ډک وي. مین چېرې هم چې اوسي او یا ځي نو د خپلې معشوقې یادونه به یې ورسره وي تل به یې په زړه اور بل وي او په شپو شپو به خپلې مینې پسې ځورېږي.

په پای ویلی شو چې مینه د پرمختګ او آرام ژوند کولو پر وړاندې ستر خنډ جوړېدای شي او پرته له الله او رسول الله نه نورې ټولې مینې ( البته باطلې ) د الله تعالی له لوري عذاب بلل کېږي او ښه داده چې په مینه کولو کې هغه اصول په پام کې ونیول شي کوم چې د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم راته ښودلي او په دې اصولو خپل ژوند پرمخ یوسو.

**و من الله توفیق**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**